سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۰٤/۰۲

# سوله څه شی دی او څنګه را منځ ته کیږ؟؟

سوله یو داسی نوم دی، یوداسی شی دی چې ټول ژوندی موجودات ورته اړتیا لری، خو د دی ټولو په سرکی د انسانانو تر منځ د سولی شتون ته ډیره اړتیا ځکه لیدله کیږی چې په انسانی سوله کی نور مخلوق هم په نسبی توګه ارام ژوند تر سره کولی شی.

سوله آرامی ده، راحت دی، آسودګی ده، او د جنګ، تیری، ویری او ظلم نه آزاد او خلاص ژوند دی. خو اصلی خبره داده چی څنګه یی تر د لاسه کولی شو؟

ـ د بی ځایه احساساتو مخنیوی: هغه احساسات چی د ټولنیز ژوندانه په ډګر کی بی قراری او ناراحتی منځ ته راوړی او د سوله ایز ژوند د جوړیدو ښیرازی ته زیان رسوی باید کنترول شی. دا احساسات چی په حتمی توګه به یا مذهبي، یا قومي او نژادي، یا ژبني او سمتي او یا هم سیاسي ـ اقتصادی او یا نوری منشاوی ولری، باید د هغو اصولو له مخی یی مخه و نیوله شی چی یوی ټولنی د خپل ټولنیز انتظام د پاره جوړ کړیدی. که چیری کوم شخص یا کومه ډله دا ټولنیز قوانین چی په ټولو یو ډول د تطبیق وړ دی و نه منی، نو دا د نارامی او بیقراری په لوری هغه لومړی ګام دی چی په ټولنه کی سوله ایز ژوند له ګواښ سره مخامخ کوی.

ـ په شخصی او ټولنیزو اړیکو کی د انډول (توازن) ساتنه.

د سولی د تهدید یو اساسی سبب هم په اړیکو کی د انډول او توازن نشتوالی دی. ددی مانا د روابطو له مخی د امتیازاتو او دریځونو لاس ته راوړل دی نه د اهلیت له مخی. د ساری په توګه که د اړیکو له مخی یوه نالوستی او د قوانینو نه بی خبر شخص ته په یوه محکمه کی د قاضی په توګه دنده ور وسپارل شی، نو په حقیقت کی دا ډول عمل سرته رسول د سوله ایز ژوند د له منځه وړلو د پاره یو لوی سبب کیدلی شی. همدارنګه یوه بی مسلکه او په نظامی چارو کی نا لوستی شخص ته د مارشال، جنرال، ډګروال او نورو نظامی رتبو ورکول او په حساسو امنیتی لوړو پوستونو کی د قوماندانانو په توګه د هغوی ګمارل د سولی د له منځه وړلو او د نا امنیو د رامنځ ته کولو اساسی پیلامه ده.

ـ دولتی تړونونه او قراردادونه.

په دی برخه کی ټول هغه تړونونه چی یو دولت یی د بل دولت سر د سوله ایز ژوند د تامین د پاره کوی، د یوه دولت په دننه کی د یوه ښه انتظام د را منځ ته کیدو په منظور یی دولتی او سیاسی ډلی یو د بل سره د دولت تر نظارت لاندی کوی ، یایی د



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

قومي ملکیتونو د تثبیت او منلو د پاره، د قومونو د جوړ جاري اوتر منځ یې د سولې د تامین په منظور قانوني بڼه خپله کړیده او یا هم د یوه دولت په دننه کې د بیلوبیلو دو لتي واحدونو تر منځ د ښې همکارۍ او هم غړې د پاره ژمنې شوې وې، دا ټول هغه اسناد دي چې منل او تطبیق یې د ثبات اوسولې ضمانت کوي او ماتول یې د ناامنۍ، بدبیني او د جګړو د پاره لاملونه جوړیږي.

دا ټول هغه عوامل دي چې باید هم په یوه کورنۍ کې، هم په یوه قوم کې، هم په یو ملت کې او هم په نړیوالو اړیکو کې د سولې د تامین او د جګړو د مخنیوي په موخه، په پراخه توګه د خبرو او تصمیم نیولو په منظور منځ ته راواچول شي، تر څو بحثونه پرې وشي او د ټولنې د وضعیت او عیني شرایطو له مخې د نهاي تصمیم په توګه د عمل میدان ته د مشروعیت سره ور وړاندې شي.

په لنډه توګه ویلی شو چې د صلاحیت لرونکوملي او دولتي اورګانو له خوا دمنل شوو او را منځ ته شوو ټولو تړونونو او قراردادونو، منل او غاړه ورته ایښودل د سولې د تامین سبب کیږي او سر غړونه ورنه سوله تهدیدوي، د سولې تهدید چې د ټولنې د نارامۍ او ملي تاوانو د را منځ ته کیدو سبب کیږ، ملي خیانت دی چې هیڅکله نه بخښل کیږي.

یوه خبره بله هم زما په اند ډیر ارزښت لري او هغه داچې که د دوه مخالفو اویا سره په جنګ اخته ډلو نه هره یوه په دې بریالۍ شوه چې د سولې د راتلو او تأمین په لاره کې د مخه شي او په دې لاره لومړی قدم کیدی، په حقیقت کې همدا ډله د جګړې ګټونکې ډله ده. هغه ډله چې د سولې د تامین سره موافقه نه کوي او د خشونت، جنګ جګړې او مرګ ژوبلې له لارې غواړي چې په دښمنۍ ډلې غلبه و مومي هیڅکله قاطع برۍ ته نه شي رسیدلی او که د دوی د سولې دضد دریځ له امله ټولنې ته د سر او مال هر ډول زیانونه ور اوړي د هغوی ټولنیز او عقیدتي مسؤولیت به هم همدې جګړه خوښه ونکې ډلې ته متوجه وي. په خاصه توګه هغه دښمنۍ او جګړې چې د یوه هیواد د اتباعو تر منځ د ځینو هسې سببونو له امله را منځ ته شوي وي چې حقوقي جنبه و نه لري لکه زمونږ په هیواد کې روانه جګړه چې په ظاهره کې عقیدتي منشاء لري او په حقیقت کې د پردیو نیابتي جګړه ده چې زمونږ په افغان ولس کې را تپل شویده. نو اوس که د دې جنګ د ختمیدو په لاره کې هره خوا د مخه شي او د سولې د تامین په لارکې قدم کیدي په حقیقت کې د ملت په وړاندې هماغه خوا د جنګ اصلي ګټونکې ده ځکه چې هغه یې پای ته ورساوه.

زه داسې فکر کوم چې مونږ ټول د امسؤولیت او مکلفیت لرو چې خپلو اولادونو ته د سولې د تامین ضرورت له ډیر کوچنیوالي نه ور وښایو، تر څو دوی د سولې په لارو د تللو سره بلدیت پیدا کړي او په همدې لارې د نورو د حرکت د پاره هم کار وکړي.
دا ماته د نړیوالې سولې د تامین د پاره ډیره ښه طریقه بریښي. ولولی دا دسولې یو آزاد ډوله وړوکی شعر:

که جنګ شي ختم، تیرئ شي خت سـولـه بـه راشـي، مینه به راشي
خلک به یو بل ته، ورکوی مینه نـه بـه څوک پـړوی، نه پښیمانه
چې په وطن دی، تیرئ ونه شی چی په عزت دی، تیرئ ونه شی
په بل څه جنګ ته، ضرورت نشته په بل څه ننګ ته، ضرورت نشته
ماشومـان پریدئ، چی یو تر بله و کانـدی لـوبـی، پـه خوښه خپله
چی بیا سبا ته، سره دوستان شی
سوله کی واړه، سره یاران شی.